انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۱/۰٤

# د «فصل» په ځای «وصل»

## او د «تخریب» په ځای «ترمیم» څنګه دود کیدلی شی؟؟

یو څو ورځې د مخه می د فیسبوک په پانه کی یوه لیکنه کی کړی وه، مطلب یی داو: راځئ چی فاصلی را کمی کړو او د تخریب پرځای د ترمیم له لاری خپلو ستونزو ته د حل هڅی وکړو.

د دی لیکنی تر لوستلو وروسته زما یوه بنه او په ټولنیزو چارو کی د نظر خاوند دوست محترم غازی خان ځاځی صاحب راته لیکلی و څنګه کولی شو چی ( د ولس ترمنځ د فصل په بدل کی وصل او د تخریب پرځای په خپلو کی د ترمیم پروسه دود کړو؟) په ضمن کی رانه غوښتی و چی په دی برخه کی خپل نظر د نورو سره شریک کړم. بیا هم د ځاځی صاحب نه مننه او دادی په دی برخه کی زما لنډ نظر:

د ټولو نه لومړی باید عرض کړم چی هم «فصل» او «وصل» او هم «تخریب» او «ترمیم» څلورواړه هغه کلیمی دی چی د ټولنیزو اخلاقو په جوړیدو او یا محوه کیدو کی له نورو ټولو کلماتو څخه ډیره او څرګنده برخه لری. که په ټولنه کی ماشومانو ته ټولنیزه روزنه چی له کورنی نه پیل کیږی داسی ورکړله شی چی : هیڅوک د ژوند ټولی چاری په یواځیتوب سره نه شی تر سره کولی او هر څوک په یوه برخه کی نورو ته اړتیا لری، نو باید له نورو نه کرکه ونه کړئ. انسانان ټول د یوهی، د مینی او د ښکلا لرونکی دی او ټول د دوستی وړتیا لری نو باید کرکه تری ونه شی. د انسان رنګ،قد او جسامت، ژبه او نسب، عقیده او باور او نور دی ته ورته څیزونه د هغه د ټولنیز شخصیت په جوړیدو کی ونډه نه لری، کوم شی چی په ټولنه کی د یوه انسان ټولنیز شخصیت جوړوی هغه د هغه عمل او د نورو سره سلوک دی، او ښه عمل هغه عمل ته ویلی شی چی ټولنی ته خیر ورسوی نه شر، نو د شر نه ځان وژغورئ. او دی ته ورته نوری لازمی لاربښونی چی په مجموع کی ټولنیزه روزنه تری جوړیږی باید خپلو ماشومان ته ور وښایو. د دی څیزونو په ښولو سره موږ په اسانی سره کولی شو چی په یوه کلی یاقریه کی د کورنیو تر منځ،

د ولسونو تر منځ او په ملي سويه په يوه ملت کی د داخلو اقوامو تر منځ فاصلی راکمی کړو. د فاصلو کموالی وصلت راولی، وصلت محبت زيږوی، د تخريب مخنوی کوی او ترميم ته لاره پرانزی. ( شايد په همدی ملحوظ به و چی زمونږ مشرانو، زمونږ د پوهنيز سيستم نوم ښونه او روزنه يا تعليم او تربيه ايښی او غوره کړی و.)

ښونه او روزنه مونږ ته د دی موقع راکوی چی د ملت ټول اوسيدونکی د ملی يووالی په لوړه روحيه باندی سمبال شی. خوداچی ملی يووالی څه شی دی؟ هسی يوه پوښتنه ده چی ډير نظريات پکی را ښکيل کيدلی شی، نو له همدی وجهی نه داسی يو ځواب ورته نه شو پيدا کولی چی د ټولو نظرونو سره برابر وی. که د هری بشری ټولنی تاريخ ته وګورو، په هره ټولنه کی هر وخت بيل نظريات، بيل عقايد او باورونه موجودو، موجود دی او موجود به وی. نو له همدی کبله په هيڅ بشری ټولنه کی داسی يوه کوچنی زمانی شيبه هم نه ده راغلی چی په يوه جغرافيه کی يوه ټولنه چی د يوه ملت په توګه ژوند کوی، ټول دی د يوی موضوع په هکله د يوه دريځ لرونکی وی. نو که چيری ملی يووالی د يوه ملت يا ټولنی د متشکله غړو تر منځ د نظر د عمومی توافق او يا مخالفت په لرلو سره تعريف کړو، نو د دی حقيقت په رڼا کی ويلی شو چی د مطلق ملی يووالی موجوديت په يوه ټولنه کی امکان نه لری.

د دی ستونزی د نسبتی حل دپاره ټولنپوهانو يوه لاره ميندلی چی اوس تقريباً په ټوله بشری نړی کی عموميت لری او هغه داده چی: هره ملی موضوع بايد د ملت د خلکو دعمومی رايی اخستنی له لاری د موافقی يا نه موافقی په ذريعه تائيد يا رد شی. په دی برخه کی ډير مثالونه شته چی د يوی موضوع په هکله زمونږ د ټولنی د مطلق اکثريت موافقه راغلی او د دی ملت د بيلو قومونو حتی افرادو تر منځ فاصله يی را کمه کړيده. د مثال په توګه: په (۱۹) پيړۍ کی انګريزانو زمونږ په هيواد باندی تجاوز وکړ، د افغانستان په ټوله جغرافيه کی پرتو اقوامو د خپلو ملی مشرانو په مشرتوب د هغوی په وړاندی په تش لاس ملی مبارزه پيل کړه او تر دری خونړيو جګړو وروسته يی د غازی امير امان الله په زعامت په (۱۹۱۹) م کال کی خپله خپلواکی او آزادی تر د لاسه کړه. روسانو په دی ملک تجاوز وکړ، بيا هم د يوی مخصوصی ډلی نه پرته ټول افغان ملت د دی تجاوز په وړاندی مشترکه ملی جبهه پياوړی کړه، تر هغی و جنګيدل چی ترڅويی خپل هيواد د هغوی د اشغال نه را و ويسته. ( داچی تر بری وروسته ګاونډيو هيوادونو زمونږ د خلکو د ساده ګی او نا پوهی نه څنګه ناوړه ګټه پورته کړه ځانګړی خبره ده)

نن چی بيا د امريکا په مشری نړيوالی ټولنی زمونږ د هيواد سرنوشت په لاس کی نيولی دی، بی له شکه يی زمونږد پاره د ډيرغوراو پوره دقت مسئله جوړه کړيده. د دی ملی مسئلی او ورسره د ځينو نورو کړکيچونو نه د راوتلو د پاره افغانی ټولنه د افغانستان د ټولو قومونو ( ټول افغان ملت) داسی يوی پريکړی ته اړتيا لری چی هم د هيواد هر

اړخیزه آزادی پکی تامین شی او هم ملی یو والی ته پکی پیښ شوی خطر له منځه یوړلی شی. د داسی یوی پریکړی د پاره مونږ افغانان له هرڅه اول د «فصل» په ځای «وصل» او د «تخریب» په ځای «ترمیم» ته له ډیر کوچنی مقیاس(کورنۍ) څخه تر ډیر لوی مقیاس (نړیوالی) سطحی پوری ضرورت لیدل کیږی.

دا ماته دومره مشکل کار نه بریښی، که لږه حوصله او صداقت ورسره مل شی، په دی مفهوم چی:

۱ ـ د افغانستان په عوامو کی د ملی یووالی په روحیه کی کومه د تشویش وړ ستونزه نشته.

۲ ـ ستونزه د افغان قومونو په روشنفکرانو کی ده. همدا روشنفکران او په عامه اصطلاح د تعلیم والا انفرادی اشخاص دی چی د ځان غوښتنی، لوړتیا غوښتنی، او په نورو باندی د مختلفو نا سمو د لایلو له لاری د ځان لوړګڼلو روحیه پکی دومره پیاوړی ده چی حتی د ځانی ګټو د پاره د ټول ملت بربادی هم ورته سم او معقول عمل بریښی.

۳ ـ اوس نو په همدی درک سره که زمونږ روشنفکران په پراخه نظر خپلو ملی ګټو ته و ګوری او د کوچنیو قومی، ژبنیو، مذهبی، سمتی اونورو جزیرو نه د خپل نظر د لرلو سره سره راووځی، که د یوه ـ بل د هضمیدو توان ورسره نه وی، اقلاً د تحمل کیدو حوصله ولری او د یوی ګټوری مفاهمی د تر لاسه کولو د پاره د خبرو له لاری د یو بل د درک هڅه وکړی، زه په دی باور یم چی په نتیجه کی به د «فصل» په ځای د «وصل» او د تخریب په ځای د «ترمیم» په لاره روان شی، او همدا به وی زمونږ د راتلونکو نسلونو د پاره د ټولنیزی نیکمرغی اساسی لار.

اوس باید هریو خپل ځان وتلو او و ګورو چی څومره یو بل ته د ورنژدی کیدو او یو بل ته د درناوی کولو ظرفیت لرو، او څومره یو دبل سره د سمی لاری ملګرتیا کولی شو؟ که د محاسبی محصله مو تر نیمایی لوړه وه خو کامیابۍ ته نژدی یو او که ټیټه وه نو لا هم نور کارته اړتیا شته دی.

پای.